**ACADEMIA International Journal for Social Sciences**
**Volume 4, Issue 4, 2025 ISSN-L (Online): 3006-6638**

# A Research-Based Critical Review of the Prose Writing of Sharafat Ali Shahid

## د شرافت علي شاهد د نثر نګارۍ يو څېړنيز جاج

**Safia Bibi**
MPhil Scholar, Pashto Department, Abdul Wali Khan University, Mardan

**Dr. Shukria Qadir**
shukriaqadir@awkum.edu.pk
Assistant Professor, Pashto Department, Abdul Wali Khan University, Mardan

**Corresponding Author: * Dr. Shukria Qadir** shukriaqadir@awkum.edu.pk

**Received:** 07-11-2025 **Revised:** 22-11-2025 **Accepted:** 12-12-2025 **Published:** 24-12-2025

## ABSTRACT

*This research article offers a critical and analytical study of the prose writings of Maulana Sharafat Ali Shahid, a notable Pashto prose writer, poet, and religious scholar. His prose represents a significant contribution to modern Pashto literature, particularly in the fields of religious discourse, intellectual reflection, and socio-moral awareness. Drawing upon classical Islamic scholarship, personal experience, and cultural observation, Sharafat Ali Shahid employs a clear, coherent, and purpose-driven prose style. His writings effectively bridge literature and Shariah, presenting complex religious and ethical concepts in an accessible yet scholarly manner. This study examines the thematic concerns, stylistic characteristics, and ideological foundations of his major prose works, including religious essays and travel writing. The research highlights how his prose avoids exaggeration and rhetorical excess, instead emphasizing authenticity, moral responsibility, and intellectual clarity. The article concludes that Sharafat Ali Shahid's prose holds enduring literary and academic value and plays an important role in strengthening the tradition of serious, value-oriented prose in contemporary Pashto literature.*

***Keywords:*** *Pashto Prose, Sharafat Ali Shahid, Religious Prose, Pashto Literature, Critical Analysis, Research Study, Islamic Thought, Literary Discourse, Contemporary Pashto Writing, Prose Criticism*

## INTRODUCTION

پښتو ادب په وده کښې د هرې سيمې برخه ده . هغه کۀ د لر پښتانۀ دي کۀ د بر خو خپله حصه خدمت يې د خپلې مورنۍ ژبې کړے دے . او پښتو ژبه يې د نړۍ د نورو ژبو سره په صف کښې د نظم او د نثر په مېدان کښې ودرولې ده . حقيقت دا دے چې کوم هم صنف دنيا ته راغلے دے نو پښتنو کوشش کړے دے چې زر تر زره يې پښتو ادب کښې متعارف کړے دے . او بله دا چې صرف پښتو ته راوستل نۀ بلکې طبيعت يې هم ورله د پښتو کړے دے . په دې کښې ځيني خلق په شعري اصنافو کښې خپله برخه اچولې ده نو ځينو په نثري کښې خو ځينو شپه ورځ يو شان خدمت کړے دے او د نظم او د نثر په دواړه برخو کښې خپله برخه اچولې ده په دې کښې يو محترم شاعر و اديب حضرت مولانا شرافت علي شاهد هم دے . چې د ملازۍ کلي تحصيل و ضلع ټانک اوسېدونکے دے .

> ”د دوي زېږون ۲۸.۲.۱۹۸۲ کښې ملازۍ کلي تحصيل و ضلع ټانک کښې شوے . شرافت علي شاهد پۀ ختېه ادمزے دے او د مروت قبيلې د غلام خېل ځانګې سره تړاو لري، چې اصلي تعلق يې د لکي مروت سيمې څېخه دے . ابتدائي تعليم يې تر لسم پورې د ګورنمنټ سکول ملازۍ کښې او ايف اے يې کراچۍ نه وکړه“ ۱

شرافت علي شاهد د رسمي تعليم سره سره يو جيد عالم دين هم دے . پښتانۀ يې د مذهبي علومو له کبله خلق ډېر احترام کوي . د تصوف د څو سلسلو سره تړلے دے . ګڼ شمېر مريدان هم لري . د خپلو مذهبي ذده کړو په حقله وائي چې

> ” پۀ مدرسو کښې رائج نظام چې پۀ هغې کښې پۀ يو کال کښې لس، دولس کتابونه چې دې مختليفو فنونو ښودل کېږي ، لکه " قرآن کريم خو هغه هم د صحيح تلفظ او تجويد سره، عقايد او د اساس

ديني تعليمات اسلامي آداب" يا "دينيات" لپاره نصابي كتابونه ، احاديث ،اربعين نووي" يا "تعليم الاسلام ، فقه ، نورالايضاح" يا "احسن القوايد" ، قرآن كريم مكمل تلاوت او ترجمې سره ختم ،

تفسير لپاره "جلالين " عقايد " شرح عقايد نسفي" ، قدوري ،كنز الدقائق ،مشكوة المصابيح ، نحو او صرف "ميزان الصرف"كافيه"، "هداية النحو". عربي ادب ، منطق او فلسفه ،شرح وقاية ، اصول الفقه ، نورالانوار ، صحاح سته يعنې ،صحيح البخاري ، صحيح مسلم ، سنن ابو داود ،سنن ترمذي ، سنن نسائي، سنن ابن ماجه وغېره وغېره ـ موصوف الحمد لله سبقاً سبقاً د الله جل جلا له پهٔ توفيق سره دا هر څهٔ سر ته رسولي دي ـ

د ښاغلي موصوف صاحب يو څو هغه معروف و مشهور استادان چا چې د دوي علمي او روحاتي روزنه او پالنه کړې ده، لکه " پير طريقت رهبر شريعت حضرت مولانا شفيع الله صاحب دامت بركاته تلميذ قاضي عبدالكريم صاحب كلاچوي تلميذ حضرت شيخ الاسلام والمسلمين حضرت مدني رحمة الله عليه) او مفتي ټانک حضرت مولانا فتح خان صاحب رح

تلميذ حضرت مولانا عبدالغني رح تلميذ حضرت شيخ الهند) چې دا سند پهٔ علمايې ديوبند کښې يو ممتاز حيثيت لري ځکه چې دا يو لوے سند دے ـ"٢

كار روزګار يې د زرګرتوب دے او دكان يې د ښار پهٔ مېنځ کښې دے چې اكثر د كليو نه شاعران ملګري د نوموړي دكان ته راځي او ادبي بحث،مباحثې پهٔ کښې رواني وي.

ښاغلي د پښتو ادب لمن ته ته تر دې دمه دیارلس كتابونه سپارلي دي ـ چې څهٔ دا رقم نومه لري ـ

1- شعر و شريعت (پښتو او اردو نثر دواړه)

2 ـ ستا د مخ رڼا پسې راغلے يم (پښتو نعتيه مجموعه)

3- حكايات عظيم (اردو سوانح)

4- ملازئي سے آدم زئي تک (سفرنامه)

5- چقمق (شعري مجموعه)

6- كهٔ مې خداے نهٔ کړي د دې دره جدا (پښتو نعتيه مجموعه)

7- اب حيات (پښتو شعري مجموعه – اردو او انګليسي ژباړه)

8 ـ زهٔ به خير ګڼم تر څو پهٔ خاموشۍ کښې (شعري مجموعه)

9- سرچينه د محبت يې (نعتيه مجموعه)

10- كليات شاهد (اول ټوک)

11- د احمد بېټني كليات( ترتيب و تدوين)

12- د احمد جان احمد بېټني شاعري، فن، فكر او شخصيت:

13- د بېټ نيکهٔ د ادب پهٔ ګدۍ ناست ګدي نشين :

زهٔ غواړم چې د دوي په نثر نګارۍ بحث وکړم ، بره ذکر شوؤ كتابونو کښې چې كوم كتابوه د نثر دي ـ غواړم چې په هغې سرسري بحث وکړم ـ

شعر او شریعت ( پښتو نثر)

شرافت علي شاهد یو عالم فاضل شخصیت دے دوي کۀ یو خوا په عربی فارسی عبور لري نو بلخوا دوي په اردو او پښتو ژبه مهارت لري ۔ شعر و شریعت د دوي نثري ټولګه ده ۔ چې اول یې په خپله مورنی ژبه پښتو کښې تصنیف کړے ؤ۔ خو بیا د ضرورت له مخه یې دا کتاب په اردو کښې ترجمه کړو ۔ په حقله ښاغلے فرمائي چې

” زما ډېر ملګري چې هغوي تعلق د عربی ادب سره دے ۔ یا ځیني هغه ملګري چې هغوي اردو ښۀ لوستلے شي د هغوي په غوښتنه مې بیا دا اردو ته ترجمه کړو۔ اګر چې لفظي ترجمه نۀ ده خو زما تصنیف ؤ نو بس هغه مفهوم مې داسې راړولے چې اردو کښې ځانله کتاب ښکاري ۔ او پښتو کښې بې طبیعت د پښتو دے ۔ او دې سره ډېره غټه فائده دا وشوه چې زما فکر او کوشش هغه خلقو ته هم ورسېدو ځوک چې پښتو ژبه نۀ شي لوستلے ۔ “1

حضرت مولانا شرافت علي شاهد چې پۀ پښتو نثر کښې د " شعر او شریعت " پحقله پۀ پښتو او اردو دواړو ژبو کښې لیکلے لوے او معتبر علمي کتاب دے ـځکه چې دا کتاب د شاعرانو لپاره لارښود دے چې شاعران څنګه خپله شاعري د اسلامي اصولو سره سمه کړي او څنګه د ټولنې د اصلاح لپاره شاعري وکاروي۔

دا کتاب پۀ پښتو ژبه کښې د دیني اصولو او ادبي ارزښتونو ترمنځ اړیکه پۀ ژور ډول تشریح کوي۔ شرافت علي شاهد پۀ دې کتاب کښې هڅه کړې چې دا وښایي چې څنګه ادب د شریعت سره پۀ مطابقت کښې ټولنیز بدلون راوستلے شي۔ بل د دې کتاب ځانګړتیاوې د دیني تعلیماتو او شـــعر د جمالیاتو ترمېنځ توازن پېدا کول او لاره هوارول هم ده۔ بل چې د ټولو نه اهمه خبر ده هغه د ادب پۀ ژبه د شریعت د اصولو توضیح، چې دیني علوم او ادب یو بل سره یو کوي او نیزدې کوي۔ د ښاغلي موصوف دا شهکار کتاب د هغو ادیبانو او شاعرانو لپاره لارښود دے چې غواړي خپل ادبي کارونه د اسلامي ارزښتونو پۀ بنیاد وړ کړي۔

د دې کتاب پۀ وړاندې کولو سره شاهد صاحب د ادبي نړۍ پام ځان ته راواړاوۀ۔ د دې علمي او ادبي اثر تر مخه هغۀ ته ګڼ شمېر ایوارډونه ورکړل شول۔ د دې تر څنګ، مختلفو ورځپاڼو او مجلو کښې د دې کتاب پۀ اړه ځانګړي کالمونه خپاره کړے شوۀ، چې پۀ کښې د شاهد صاحب د هڅو ستائېنه شوې ده۔

اوس د شاهد صاحب د دې چاپ کتاب د " شعر او شریعت " پحقله نوموړي شاعران ادیبان چپ نۀ دي پاتې شوي ۔ ښاغلے محترم شاعر او ادیب عرفان سرحدي صاحبلیکي چې

” د ټانک پۀ سیمه د اروابښاد منتظر بېټني صاحب نه پس کۀ د چا هم پۀ نثر کښې کار کړے دے نو هغه شرافت علي شاهدصېب دے۔

نوموړي پۀ ۲۰۱۸ کښې د شعر او شریعت پۀ نامه یو تحقیقي کتاب چاپ کړو۔ د قران پاک احادیث د صحابه او اولیاؤ د اقوالو پۀ رڼا کښې چاپ شوے دا کتاب د علماؤ او مفتیانو تر نظر هم تېر شوے دے۔

یاد شوي کتاب بې پناه مقبولیت اوموندۀ او پۀ دغه کتاب د پښتو ادبي تحریک مردان ورته د ډاکټر همایون هما ایوارډ هم ورکړو د اولس پۀ ډېر فرمائش همدا کتاب پۀ اردو ژبه هم وژباړل شو او برکي اسلامي کتبخانې ډېره اسماعیل خان والوؤ پخپل زیار چاپ هم کړو او نن سبا پۀ مارکیټ کښې ملاوېږي هم ۔ پۀ دغه اردو ته ژباړلي کتاب ورته د لکي مروت یوتھ ویلفئیر افیئر ایوارډ ورکړو “ ۳

داسې پښتو د ادب روح رواں شاعر او ادیب محترم نادر خان علیل صاحب لیکي چې

” ملګرے شرافت علي شاهد د پوهې او استعداد خاوند دے چې پۀ شعري او نثري دواړو لیکنو یې لاس بر دے، خو لۀ دې نه څو چنده زیات دا لوے سعادت هم ورته حاصل دے چې دم، قدم او قلم رُخ یې د پاک او سپیڅلي دین او د اقائے دو جهان ﷺ محبت ته دے۔

داے خپل ادبي او علمي صلاحیتونه د دینِ مبین د ترویج او د سرور کونین ﷺ د صفاتِ عالیه د ودې رفعت د پاره او خپله مذهبي او دیني پوهه د روان ادب د کړو وړو د ښکلا او سپېڅلتیا د پاره د کارولو سعي بلیغ کوي او پښتون ادب د مغرب د نیم فلسفیانه مباحثو، نیم عالمانه سوچونو او د بې مقصده ناره بازۍ لۀ اثراتو نه د خلاصولو او ازاده ولو شعوري کوشش کوي دا وجه ده چې د شعر او شریعت پۀ موضوع یې یو بې حده ارزښتناک او

> مستند تحقيقي كتاب وليكلو،چې نۀ فقط موجوده دور بلكې راتلونكيو نسلونو ته به د رڼا او راهنمايۍ كار وركوي دا كتاب پۀ پښتو او اردو دواړو ژبو كښې دستياب دے بيخي زيات ستائيلے شوے او لۀ ادبي او سركاري ادارو نه يې مختلف اېوارډونه حاصل كړي۴

د دې " شعر او شريعت " يوه بله خوبي دا هم ده چې دا كتاب د لوستو پۀ دوران يو جادويي اثر لري. د دې وجه شايد دا وي چې يو خو دا كتاب پۀ څۀ حوالې نوې علمي دلچسپه ادبي موضوع لري ، دويم يو شاعرانه ضرورت هم پسې كارفرما دے، دريم د شاهد صاحب د خلوص خواږۀ هم پۀ كښې شامل دي.

احمد بېټني شاعري فن، فكر او شخصيت :

دا د ډېر خوشحالۍ مقام دے چې پۀ پښتو ادب كښې هم لكه نورو پرمخ تللو ژبو نوې نوې تخليقي تجربې رواني دي چې پۀ عمومي توګه د ادباؤ ژبې د ترقۍ د پاره ډېر مؤثر او ګټور كوششونه ګڼلے شي .پۀ هم دې سلسله كښې ښاغلي محترم پير طريقت رهبر شريعت حضرت مولانا شرافت علي شاهد صاحب حفظه الله هم يو لوے زيار كړې دے هغه دا چې د بېټنو د يو لوے شاعر پۀ حقله يې يو ښۀ ګټور، تفصيلي كتاب ليكلے دے. او پۀ ژوند كښې يې د دوي د شاعرۍ، فكر، فن او د شخصيت يو لوے اعتراف بغېر د څۀ لالچ كړے دے، چې پۀ بالعموم پۀ پښتانه معاشره كښې او بيا پۀ تېره پۀ پښتانو شاعرانو كښې خو د دې بېخي فقدان او كمے دے، ځكه چې د پښتو هر شاعر ځان ته تقريبا عبدالرحمان بابا او خوشحال خان بابا وائي او د ځان نه ورته هډو بل څوک پۀ روې زمين ښكاري هم نۀ، نو څۀ به بيا دوي د يو بل شاعر يا اديب د شاعرۍ، د فن، فكر او د شخصيت پۀ حقله څۀ وليكي . بحرحال پۀ دې كښې د ښاغلي شاهد صاحب لوے والے او د محترم احمد بېټني صاحب بختور والے دے چې د شاهد صاحب مدظله عاليه غوندې لوے شاعر او اديب د دوي پۀ حقله " د احمد بېټني شاعري، فن، فكر او شخصت " يو لوے كتاب وليكلو.

دا كتاب پۀ كال ۲۰۲۴ كښې د شعور ادبي جرګه ټانک پۀ اهتمام د چاپ پۀ كالو سينګار شوے ده .چې دلكش ټائټل، مضبوط جلد درميانه كاغذ او ۲۲۳ مخونه لري .ټرون يې د ګران محترم بهادر خان صميم كنډي اماخيل، فخر ټانک لوے شاعر هيبت خان هيبت ، نقاد، څېړنوال، ډرامه ليكوال، ناول ليكوال، افسانه ليكوال لوے اديب او شاعر اروابناد قيوم مروت، د پښتو ژبې لوے صوفي شاعر اروابناد محمد حسن احسان، فخرې پښتونخواه لوے شاعر اروابناد عمردراز مروت او د پښتو ژبې لوے اديب او شاعر اروابناد نياز لوهاني پۀ نوم شوے دے -

دا كتاب صرف يو نثري كتاب نۀ بلكې دا د موصوف د ژوند نمونه، ائينه او عكاس كتاب دے . ځكه چې پۀ دې كتاب كښې ښاغلي شاهد صاحب حفظه الله د دوي بېخي ايكسرا بلكې الټراساونډ كړے دے او هرڅۀ يې كتونكو ته ښۀ صفا صفا پۀ ګوته كړي او واضح كړي دي -

> ” ځكه چې پۀ دې كتاب كښې شاهد صاحب د دوي پۀ حقله هيڅ پرې ايښې نۀ دې .لكه دوي د احمد بيټي د شعر د ژبه، احمد بېټنے د ساده بيانۍ قائل او داعي دے . د دوي پۀ شاعرۍ كښې حمد او نعت، مناجات، سياسي،معاشي او د تحريک ازادۍ رنګونه، صوفيانه رنګ، مذهبي شاعري، ښكلا او د رڼا شاعري، علمي او مذهبي رنګونه، مشاهدتي، مطالعاتي او تجرباتي شاعري، مشوره اميز شاعري، طنز و مزاح، تنقيدي اړخونه، د عقيدت پسندۍ رنګ، منقبت، مرثيه نګارۍ عكسونه، اخلاقي شاعري، ملي رنګ، حادثاتي او جذباتي شاعري،بنده پرورۍ رنګونه، واقعاتي او تاريخي عكسونه، محاورې او متلونه ،پښتواو د پښتونوالي پۀ حقله، محمل اندازۍ رنګونه، حقيقت اميزي، تصوراتي شاعري، اصلاحي رنګ، د علاقايي تورو ښكلا او ځلا، افاقيت رنګونه، د دعوت الا الله پرچار، د دردېدلي او لړزېدلي پښتون نقشه، د امن او د ښكلا پېغام، د ژپوهنې درس، د يوالي درس او د مورنۍ ژبې مينه، د قلم او د كتاب ذكر، د سپين سپېڅلي مسلمان او د پښتون تصوير، د وحدت الوجود او شهود شاعري، فلسفيانه رنګ، د ترنم او د موسيقيت رنګ، عشق مجازي د دوران او د جانان شاعري، فلسفه خودي اخلاقي شعرونه وغېره وغېره .
>
> يعنې محترم مولانا شاهد صاحب مدظله عاليه د دوي هر اړخ څيړلے دے . او پۀ ليكلو ليكلو كښې يې د وخت د اديبانو او لۀ شاعرانو نه يوه ډېره لويه ګيله كړې ده هغه دا چې " د احمد بېټني پۀ حقله قلمونه خاموش او ژبې ګونګې ولې دي؟ -22

د درجن پښتو كتابونو مصنف لوے شاعر، د بېټني قبائل لوے سياسي او ملي مشر، لوے ادبي او انقلابي شاعر، تعليمي، اتحادي او تاريخي شعور لرونكے او لړزونكے او درد لرونكے مفلس او مخلصه مسلمان، د بلها صفتونو پۀ خوشبو معطر او ژور انسان خو هغه

د چا خبره چې " لال پۀ ایرو کښې " یعني چې پۀ یو سړي کښې پټ ننه دومره ډېر شخصیتونه او کردارونه وی او داے بیا نۀ وستاېلے شی او نظر انداز کړے شي بیا خو به د ډاکټر چراغ حسین شاه صاحب د دې شعر مصداق مونږه ټول شاعران او ادیبان ګرزېږو چې::

زۀ ګیله د بې قدرۍ له چانه نۀ کړم

د ړندو کور کښې بلېږمه چـراغ یم23

دا د ډېر خوشحالۍ مقام دے چې پۀ پښتو ادب کښې هم لکه نورو پرمخ تللو ژبو نوې نوې تخلیقي تجربې رواني دي چې پۀ عمومي توګه د ادباؤ ژبې د ترقۍ د پاره ډېر مؤثر او ګټور کوششونه ګڼلے شي ـ پۀ هم دې سلسله کښې ښاغلي محترم پیر طریقت رهبر شریعت حضرت مولانا شرافت علي شاهد صاحب حفظه الله هم یو لوے زیار کړې دے هغه دا چې د بېټنو د یو لوے شاعر پۀ حقله یې یو ښۀ ګټور، تفصیلي کتاب لیکلے دے. او پۀ ژوند کښې یې د دوي د شاعرۍ، فکر، فن او د شخصیت یو لوے اعتراف بغېر د څۀ لالچ کړے دے، چې پۀ بالعموم پۀ پښتانه معاشره کښې او بیا پۀ تېره پۀ پښتانو شاعرانو کښې خو د دې بېخي فقدان او کمے دے، ځکه چې د پښتو هر شاعر ځان ته تقریبا عبدالرحمان بابا او خوشحال خان بابا وائي او د ځان نه ورته هډو بل څوک پۀ روۍ زمین ښکاري هم نۀ، نو څۀ به بیا دوي د یو بل شاعر یا ادیب د شاعرۍ، د فن، فکر او د شخصیت پۀ حقله څۀ ولیکي . بحرحال پۀ دې کښې د ښاغلي شاهد صاحب لوے والے او د محترم احمد بېټني صاحب بختور والے دے چې د شاهد صاحب مدظله عالیه غونډې لوے شاعر او ادیب د دوي پۀ حقله " د احمد بېټني شاعري، فن، فکر او شخصت " یو لوے کتاب ولیکلو.

دا کتاب پۀ کال ۲۰۲۴ کښې د شعور ادبي جرګه ټانک پۀ اهتمام د چاپ پۀ کالو سینګار شوے ده ـ چې دلکش ټائېټل، مضبوط جلد درمیانه کاغذ او ۲۲۳ مخونه لري ـ ټرون یې د ګران محترم بهادر خان صمیم کنډي اماخیل، فخر ټانک لوے شاعر هیبت خان هیبت ، نقاد، خېړنوال، ډرامه لیکوال، ناول لیکوال، افسانه لیکوال لوے ادیب او شاعر اروابښاد قیوم مروت، د پښتو ژبې لوے صوفي شاعر اروابښاد محمد حسن احسان، فخرې پښتونخواه لوے شاعر اروابښاد عمردراز مروت او د پښتو ژبې لوے ادیب او شاعر اروابښاد نیاز لوهاني پۀ نوم شوے دے ـ

دا کتاب صرف یو نثري کتاب نۀ بلکې دا د موصوف د ژوند نمونه، ائینه او عکاس کتاب دے ـ ځکه چې پۀ دې کتاب کښې ښاغلي شاهد صاحب حفظه الله د دوي د قام، قبیلې یعنې د ا چې، بېټني څوک دي، د بېټني د قبیلې د استوګنې ځاے، د بېټني قبیلې ښاخونه، د وړسبون ښاخونه، کجین ښاخونه، د ادب پۀ اړه د بېټني خاوره وغېره ـ

پۀ دې کتاب کښې د احمد غزل او د نني دور تقاضې ،د احمد بېټني د شعر د تخیل ژبه، احمد بېټنے د ساده بیانۍ قائل او داعي دے ـ

د احمد پۀ شاعرۍ کښې حمدیه، نعتیه، صوفیانه رنګ، علمي او مذهبي ښکلا رنګونه، علمي او مذهبي رنګونه، مشاهدتي، مطالعاتي او تجرباتي شاعري، مشوره امیز شاعري، طنز و مزاح، تنقیدي اړخونه، د عقیدت پسندۍ رنګ، منقبت، مرثیه نګارۍ عکسونه، اخلاقي شاعري، ملي رنګ، حادثاتي او جذباتي شاعري،بنده پرورۍ رنګونه، واقعاتي او تاریخي عکسونه، محاورې او متلونه ،پښتو او د پښتنوالي پۀ حقله، محمل اندازۍ رنګونه، حقیقت امیزي، تصوراتي شاعري، اصلاحي رنګ، د علاقاېي تورو ښکلا او ځلا، افاقیت رنګونه، د دعوت الا الله پرچار، د دردېدلي او لړزېدلي پښتون نقشه، د امن او د ښکلا پېغام، د ژپوهنې درس، د یوالي درس او د مورنۍ ژبې مینه، د قلم او د کتاب ذکر، د سپین سپېڅلي مسلمان او د پښتون تصویر، د وحدت الوجود او وجود شاعري، فلسفیانه رنګ، د ترنم او د موسیقیت رنګ، عشق مجازي او حقیقي ، د دوران او د جانان شاعري، فلسفه خودي اخلاقي شعرونه ـ

د بېټ نیکۀ د ادب پۀ ګدۍ ناست ګدي نشین :

د احمد بېټني دا کتاب " د بېټ نیکۀ د ادب پۀ ګدۍ ناست ګدي نشین " ۰۱ جنورۍ ۲۰۲۴ کښې د وحدت ادبي ټرون ټانک پۀ اهتمام د چاپ پۀ کالو سینګار شوے ده ـ چې دلکش ټائېټل، مضبوط جلد درمیانه کاغذ مزېدار لري ـ او ټرون د دې کتاب د دې بختورو شاعرانو ادیبانو پۀ نوم څۀ داسې شوے دے لکه :

”(۱) د خپل بېټ نیکۀ پۀ نوم چا چې د خپلے دعا پۀ طفیل د پښتو د ادب بنیاد کېښود .

(۲) د شیخ مولانا عزیز الله غر بېټني پۀ نوم چا چې د حق پۀ وینا کله خلۀ نۀ ده بنده کړے .

(۳) د ملک پیرحسن حسین بېټني صبب چې د حق نعره پۀ خلۀ د حق د پاره جنګېدۀ د محمد شاه خان چې خان وۀ خو له موژ سره به یې غریبي او ملنګي کښې خوړه.

(۴) د سلام گل نسیم ښېټني چې ځلوېښت کاله د ښېټ نیکهٔ پښتو ادبي ټولنه جنډوله د خدمت د پاره ملا تړلې لاس پهٔ سلام ولاړ دے او گل شاه خان ټکور چې (د زني خال) کتاب مصنف دے ښکلے دروند شاعر دے.

(۵) د باطن شیخ باطن ښېټني چې د ( تیارې او رڼا ) کتاب مصنف دے او د فقیر علي محمد ښېټي صېب چې د ( سنگر پهٔ نوم کتاب مصنف دے او د سهېل ښېټني صېب چې د ښېټني قام تاریخ یې پهٔ پښتو او اردو کښې دنیا ته وړاندې کړو او د گران قدرمن محترم جناب منتظر ښېټني چې یو بین الاقوامي شخصیت دے او لر او بر پښتون ویاړ او فخر پرې کوي.“24

دا کتاب پهٔ داسې لیکنو مشتمل یو داسې ضخیم کتاب دے، کومې لیکنې چې د احمد ښېټني د ادبي کار او زیار پهٔ حقله د وخت لویو لویو شاعرانو ادیبانو کړې دي ، هغه ټولې لیکنې محترم مولانا شرافت علي شاهد صاحب رایوځاے کړې او بیا یې ترې ډیر پهٔ ترتیب سره یو ښکلے کتاب جوړ کړے دے . خداے مه وکړه کهٔ چرته احمد مړ هم شي خو د دې کتاب پهٔ برکت سره به احمد تل تر تله ژوندے وي. یعنې احمد به نهٔ وي خو دا لیک ،کتاب او احمد به ژوندے وي، احمد به مړ وي خو احمد به ژوندے وي.

پهٔ دې کتاب کښې چې د کومو شاعرانو ادیبانو لیکنې خوندي دي د هغوي نومونه هم څهٔ پهٔ دې ډول دي . لکه

اروابناد منتظر ښېټني ، مولانا شرافت علي شاهد صاحب حفطه الله ،سلام گل نسیم ښېټني، نجیب احمد الباري، جمال نور جمال ښېټني ، امیر جان همدرد ښېټني، اروابناد سېلاب مسعود، نثار وزیر، محمد نواز طائر، اروابناد نیاز لوهاني ، فضل الرحمٰن محسن ، ډاکټر مسعود احمد زاهد،مولانا احمد حسن لسوندي برکي، حبیب الرحمٰن حبیب ، طارق مسعود گنه ، اروابنادسلیم نوشاد،قسمت علي رضا ،امین جان امین ،رحمت الله رحمت ،سلیم بسیا ښېټي ،اختر منیر ، بهار علي طلبگار ۔

یعنې پهٔ دې کتاب کښې د احمد پهٔ فن ، فکر او شخصیت او شاعرئ پهٔ مختلیفو اړخونو ښې تفصیلي خبرې اترې شوې دي، چې سړے ترې تر څهٔ حده ډیره څهٔ زده کړه کوے شي. لنډه دا چې دا کتاب د پښتو پهٔ ادب کښې یوه نوې اضافه ده، او د پښتو د ادب تږي پرې خپله تنده ماتوے شي ۔

**4.5**:ملازئ سے ادم زئ تک ( تاریخي سفر نامه ):

دا د ښاغلي شرافت شاهد تصنیف دے ۔ چې په کال ۲۰۲۳ کښې چاپ دے ۔ دا د ملازئ قام په حقله تحقیقي سفر نامه ده ۔ او د دوي شجرې په کښې لیک دي ۔ د دې کتاب ترتیب عرفان سرحدي کړے دے ۔ په دې کتاب د پیر شفیع الله خان ، رشید احمد مروت او د قسمت علي رضا تاثرات لیک دي ۔ چې د کتاب د اهمیت او داد کښې لیکونه کړي دي ۔

شاہد صاحب نے یہ کتاب مرتب کر کے بلاشبہ ایک مسحق قدم اٹھایا ہے ۔ اس تاریخی سفرنامہ میں مروت قوم کے بارے تمام تر ممکن معلومات کے علاوہ تاریخی و جعرافیائی اہمیت اور مروت قوم کے مختلف علاقوں کے مختلف قبیلوں کی اصلی حقائق اور تاریخی پس منظر اور واقعات و مقامات کی دلچسپ اور حیران کن وہ تذکرے کے جس سے ہم بے بصر تھے بیان کئے ہیں ۔

محترم شاہد صاحب اپنی تحقیق دقیق کی بعد اپنے جدامجد اور اباؤاجداد کا سراغ لگانے میں پوری طرح کامیاب و کامران نظر اتے ہیں ۔

اس سفر نامہ میں ملازئی اور ادم زئی کے علاقے اور قومی تاریخ کا بھرپور احاطہ کرنے کے علاوہ لکی مروت کی مختصر تاریک کے ساتھ ساتھ خیبر پختونخوا ، کے جنوبی اضلاع کا ایک اہم صحت افزا او تاریخی مقام، شیخ بدین کے موسم او ر قدرتی خوبصورتی سے لطف اندوز کے ساتھ ساتھ انگریزوں سے ورثہ میں ملے شہر بدین کو حکومت ترقی دینے کے بجائے اس قومی ورثہ سے ہاتھ دھونے او بہترین نعمت کھونے کا ذکر اور فکر بھی ہے ۔ اس کے علاوہ لکی مروت پہاڑ خیل ، پکہ سیمہ کے وہ پہاڑ جو قدرتی وسائل اور اللہ کے قدرت کے شاہکار اور کرشمے دیکھانے والے اگ کے پہاڑ جس میں گیس کے بہت بڑی ذخائر او ر ان میں چھپے ہوئے خزانو کا ذکر بہت ہی خوبصورت انداز میں ہوا ہے ۔

گاؤں ادم زئی کی تاریخی پس منظر کے علاوہ لکی مروت کے علاقہ ڈگر کے ساتھ ساتھ ضلع ٹانک اور دیرہ اسماعیل خان کے مختصر تاریخی پس منظر کے علاوہ اور بھی ایسے پرمغز اور بہت اہم علمی معلومات ہیں کہ جس سے ہم پوری طرح مستفید ہو سکتے ہیں ۔ 25

ترجمه : شاهد صاحب دا کتاب بلا شبه یو مستحق قدم ووچت کړے دے ۔ دې تاریخي سفر نامه کښې د مروت قام په ځقله تول ممکنه معلوماتو نه علاوه تاریخي او جعرافیائي اهمیت او د مروت قام د مختلفو علاقو مختلفو قبیلو اصـــلي حقائق او تاریخي پس منظر او واقعات و مقامات زړۀ راښکونکي او حېرانونکي هغه تذکرې چې مونږ ترې ناخبره وو بیان کړي یې دي۔

محترم شاهد صاحب په خپل تحقیقي دقیق نه پس د خپل جدامضد او باؤاجداد لټون کښې پوره کامیاب و کامران ښکاري ۔ په سفرنامه کښـې هغوي د ملازئ او ادم زئ د علاقې او قومي تاریخ پوره احاطه کولو نه علاوه د لکي مروت مختصـر تاریخ سـره سـره د خېبر پښتونخوا جنوبي اضلاع یو اهم صحت افزا او تاریخ مقام شېخ بدین موسم او قدرتي ښائست نه لطف اندوزئ سره سره د انګرېزانو نه د پاتې شـوې ورثې ښـارېي بدین ته د حکومت د ترقۍ ورکولوپه ځائـے د هغې نه د لاس وینځلو او د یو بهترین نعمت د وتلو ذکر او فکر کړے دے ۔ د دې نه علاوه د لکي مروت پهاړ خېل ، پکه سیمه هغه غر کوم چې د قدرتي وسـائلو او د الله د قدرت شـاهکار کرشـمې ښودنکیو د اور په غرونو کښې ګېس او د لویو ذخائرو او دې کښې د پټو خزانو ذکر په ښکلي انداز کښې کړے دے ۔

د ادم زئ کلي تاریخي پس منظر نه علاوه د لکي مروتت په علاقه ډګر سره سره د ضلع ټانک او ډېره اسماعیل خان مختصر تاریخي پس منظر نه علاوه نو هم داسې معزز او علمي معلومات دي ۔ چې مونږ ترې ګټه پورته کولے شو۔

شـرافت علي شـاهد د پښـتو نثر پۀ برخه کښـې څو اړخیز شـخصـیت دے، چې د هغۀ لیکنې د ټولنیز شـعور، دیني ارزښـتونو او ادبي نوښتونو پۀ برخه کښې د لوستونکو لپاره یوه مهمه سرچینه ده۔ د هغه نثر د پښتو ادب د پرمختګ لپاره یوه لویه مرسته ده، چې د اخلاقو، انصاف، او بشري ارزښتونو پۀ وده کښې مهم رول لوبوي۔ د شرافت علي شاهد کارونه د پښتو ادب لپاره یوه معنوي او ادبي عطر پاشي ګڼل کېږي، چې د هغۀ پۀ ژوندي کولو او پرمختګ کښې به اوږد لاس ولري۔

شرافت علي شاهد د پښتو او اردو ادب د نړۍ هغه رڼا ده چې د ادب، کلتور، دیني ارزښتونو او ټولنیزو موضوعاتو پۀ وده کښې یې لوي رول لوبولے دے۔ د هغۀ چاپ او ناچاپ اثار هر یو پۀ خپل ځاے ځانګړے ارزښت لري او د هغۀ فکري ژوروالے، تخلیقي ځواک، او د انساني ټولنې د پرمختګ لپاره سودمن او بختور ګام دے ۔

## حوالې

شاهد ، شرافت علي ، شعر اور شریعت : نفیس بک بائنډر اېنډ پرنټرز لاهور ،۲۰۲۰ مخ ۲۵

مخ په مخ مرکه ، پېښور پوهنتون ، ۲ مئ کال ۲۰۲۵

شاهد ، شرافت علي ، شعر اور شریعت : نفیس بک بائنډر اېنډ پرنټرز لاهور ،۲۰۲۰ مخ ۱۶

هم دغه اثر ...... مخ ۱۹

کتاب: احمد بېټني شاعري، فن، فکر او شخصیت ،چاپ، شاه پرنټر محله جنګي پېښور ۲۰۲۴ ص ۲۳

: هم دغه اثر .......... مخ ۲۴

:شاهد ، شرافت علي ، مولانا، د بیټ نیکۀ د ادب په ګدۍ ناست ګدي نشین :شاه پرنټرز محله جنګي پېښور ، جنوري ۲۰۲۴

؛ شاهد ، شرافت علی ، ملازئ سے ادم زئ تک ، شاه پرنټرز مځله جنګي پېښور، جنوري ۲۰۲۳ مخ ۱۳، ۱۴